پښتو جماعت (لسم)

یادګیرنه:- د دو یمی او دریمی برخی د پاره وخت دوه ګهنټی او ځلویښت منټه دے.

دویمه برخه

نمبری36

II. په لاندینو سوالونو کښې د نهه "9" سوالونو ځوابونه ولیکی د هر سوال ځلور نمبری دی.

(ا) صفوان بن امیه څوک وو او څنګه مسلمان شو؟

(۲) ډاسم څو او کم کم قسمونه دی؟

(۳) عرونه څنګه پیدا شو؟

(٤) ډسپری په مال کښې څو حقه داران وی.

(٥) نشان حیدر څه وی خپل معلومات ولیکئی.

(٦) په ټپه او چار بیته کښې څه فرق دے.

(٧) پنځه متلونه ولیکئی.

(٨) دوست محمد خان کامل مومند کله او چرته پیدا شوے وو؟

(٩) دخپلے ژبے ترقی ولے ضروری ده؟

(١٠) بے له نظامه ترقی ولے ممکنه نه ده؟

(١١) رحمت شاه سائل څوک دے کله او په کم ځائے کښې پیدا شوے دے.

(١٢) مثنوی څه ته وائی.

دریمه برخه

نمبری:24

یادګیرنه:- لاند ینو سوالونو کښې صرف د دریو سوالونو ځوابونه ولیکی. د هر سوال اته نمبری دی.

III. لاندې عبارت په آسانه پښتو کښې ولیکی.

تلونکی

ډاګټ په اصل کښې د چوک په کناره وو اور د هر تلونکی راتلونکی نظر پرے وو دریته ریړه نه ډیره وه او نه ډیره لویه ، بس د ریړے همره وه خو خدائے خبر د څور یرو هومره یے پکه کړے وه اور ګڼا رنګ میوے یې پکښے راجمه کړے وے. لاندے میوے یے مراوے مړاوے ښکاریدے. میوے یے خړے خړے خور یره یے لګه وه.

IV. ددی شعرونو تشریح وکړی.

| | |
|---|---|
| چی می ننه په زړه کښې فهم فکر وکړو | احمقان راته ښکاره شو په څو یو نو |
| یو هغه سړے احمق بللے بویه | چی باور کښې د غلیم په سوګند ونو |
| بل هغه سړے احمق بللے بو یه | چی د ښځو سره پاسی په جنګونو |
| بل هغه سړے احمق بللے بویه | چی خبرے کئی په سترګو اوپه لاسو نو |

V. خپل پرنسپل صاحب / صاحبې ، هیډ ماسټر صاحب / صاحبې ته د دوباره داخلے درخواست ولیکی.

یا

یوه قیصه ولیکی چی نتیجه یے "لالچ بده بلا ده"

VI. په مولانا عبدالقادر باندے نوټ ولیکی.

یا

الف جان خټکه باندے نوټ ولیکی.